سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۵/۲۲

# آیا افغانستان
## د یوګوسلاویا په لار نه دی روان شوی؟

د یوګو سلاویا هیواد د دویمی نړیوالی جګړی نه وروسته د بیلا بیلو قومی جوړښتونو او سیمو لکه سربیا، بوسنیا ـ هرتزګووینیا، کروشیا، مسیدونیا، مونتی نیګرو او کوزووُ، څخه د یوه فدرالی هیواد په توګه جوړاوپه شرقی (کمونیست) بلاک پوری و تړل شو.

تر ۱۹۸۰ م کاله پوری چی د دایمی جمهور رئیس مارشال جوزیف بروز تیتو له لوری اداره کیده، په داړو سیاسی او اقتصادی برخو کی یی ښه پرمختګ لروده. کله چی په ۱۹۸۰ م کال کی مارشال تیتو مړ شو، د هغه د مړینی سره سم په دی هیواد کی سیاسی بی ثباتی او اقتصادی ستونزی را منځ ته شوی. د لومړی ځل د پاره په کوزووُ کی د میشته البانیایی اوسیدونکو د خپلی آزادی د پاره هلی ځلی پیل کړی. دی حالت ورو ورو په ټول هیواد کی داخل وضعه کړکیچنه کره . د البانیانو او سربیانو تر منځ وسله وال اخ و ډب را منځ ته شو او ټول هیواد د بدو او ناوړو حالاتو سره مخ شو. دی نا انډوله جګړو اینتیکی بڼه و میندله او تر شپږو کلونو پوری دی جګړو دومره زور واخست چی دنیاوال یی هم له له ودریدو نه عاجز شول. کله چی په ۱۹۸۷م کال کی سلوبودان میلاسوویچ په سربیا کی قدرت ته ورسیده نو په ډیر شدت سره یی د کوزووُ قوتونه او حتی ملکی و زپل. میلاسوویچ په ۱۹۸۹م کال کی د سلوانیا او کروشیا د ایالاتو د مخالفو مشرانو سره وکتل او په دی هیواد ک یی د کمونست لیګ ماتی ومنله او د درنو مرګ ژوبلو نه وروسته د ۱۹۹۰م کال د جنوری په میاشت کی کمونست لیګ عملاً منحل او له منځه ولاړ. په ۱۹۹۲ م کال کی د یوګو سلایا فدرالی جمهوریت په بیلو بیلو برخو و ویشل شو او شپږ مستقل جمهوریتونه یکی را منځ ته شول چی عبارت دی له سلوانیا، کروشیا، بوسنیا ـ هرزګووینیا، سربیا، مسیدونیا او مونتی نیګرو څخه. د دی هیواد تجزیه او ټوټه کیدل نه یواځی د دی هیواد د اوسیدونکو د پاره ډیر ګران تمام شول بلکی انسانی تلفات او مادی خرابی یی تر دی حده درنی وی چی لا تر اوسه یی تاثیرات په ټوله سیمه کی مخسوس دی.

د یوګو سلاویا په هکله می دا لنډی خبری د دی د پاره وکړی چی ، خدای دی زما حدس او ګومان نه ریښتیا کوی چی د خپل هیواد روانو حالاتو اوموجودی وضعی ته ګورم نو د هماغه هیواد وضعیت می سترګو ته نیغ نیغ کیږی چی له پیښیدو نه یی دومره ډیر وخت نه دی تیر شوی.

د نورو ډیرو عواملو په منځ کی ماته داسی ښکاری چی د یوګو سلاویا د دولت د سقوط او ټوټه کیدودوه سترعلتونه یو ایتنیکی (قومی) او بل یی عقیدوی او مذهبی اختلافات وو.

له بده مرغه مونږ هم دا دواړه اختلافات په ډیره بده بڼه د خپل وطن د روشنفکرانو، زورواکانو او واکمنانو په منځ کی چی د ملت او په بیلو قومونو پوری مربوط عوام خلک یی د رنګا رنګ مجبوریتونو له مخی په مطلقه توګه په ځان پور ی تړلی او یرغمل کړیدی، په ډیر وضاحت سره وینو،چی د یوی ورځی نه بلی ته لا پرمختګ کوی.

ماته پوره معلومات نشته چی په پخوانی یوګو سلاویا کی قومی دښمنیو ته کومو، او مذهبی دښمنیو ته کومو خارجی هیوادونو او موسساتو لمنه وهله. خو زمونږ په هیواد کی د لویو قدرتونو له هدفونو او د کټو د تامین له منظوربرسیره، زمونږ ټول ګاونډی هیوادونه چی د بیلا بیلو افغان قومونوسره قومی او خونی اړیکی لری لکه تاجکستان، ازبکستان،ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، ایران اوپاکستان او هغه هیوادونه چی زمونږ په هیواد کی د شعیه او سُنی مذهب د پیروانو سره اړیکی لری، په سر کی لکه ایران او ځنی نو غربی هیوادونه او پاکستان، سعودی عربستان او ځنی نور هیوادونه، په ښکاره داسی لاس وهنی کوی لکه دا تحریکات چی د نړیوالو حقوقو له مخی د دوی حق وی او د بین الدول حقونو یوه برخه وی.

وګوری زمونږ په هیواد کی د پیرانو، حضرتانو او د نیمچه ملایانو او ګڼو جهادی لیډرانو ګورنی او پیروان په مجموع کی د پاکستان د ګټو نه داسی په ځرګنده د فاع کوی لکه هغه چی یی اصلی ملک وی او افغانستان یی دویم کور وی.

زمونږ هغه وطنوال چی یا د واهبیت د مذهب پیروان دی او یا د سعودی د هیواد نه راشن اخلی، د حنفی مذهب او د شعیه د مذهب د پیروانو سره داسی سلوک کوی لکه دوی چی بیخی مسلمانان نه وی. همدارنګه زمونږ د شعیه مذهب هغه پیرو اافغانان چی د شوروی د اشغال په وخت ایران ته مهاجر شویدی په خپل هیواد کی داسی د ایران له ګټو نه دفاع کوی لکه کوم ایرانی ته چی د ایران د دولت له خوا چی په افغانستان کی وظیفه ور کړی شوی وی. ژبنی اختلافات هم په ورته توګه تخریب ته دوام ورکوی.

د دی مذهبی دښمنیو نه پرته حصوصاً په دی تیرو اته لسو کالو کی ، د امریکا د دولت په ذریعه د طالبانو تر سقوط وروسته د سیاسی او اقتصادی رقابتونو، مقابلو او د فساد د لاری نه د شتمنیو په مبارزه کی، د زور واکو او تالانګرو له لوری قومی او ایتنیکی لریوالی ته دومره پراخه کار وکیده چی دعامو خلکو نه پرته په سختی سره به داسی یو لوستی کس و میندل شی چی په یوه نه یوه بڼه په دی بدرنګه لوبه کی نه وی ور ګډ شوی.

که خبره را لنډه کړم نو ماته داسی یوه توره معامله سترګو ته راځی چی د غریبو عجیبو انتخاباتی ټکټونو او ټیمونو جوړیدل، د پارلمان د وکیلانو تر منځ روان جنجالونه، د اساسی قانون د موادو رنګا رنګ تعبیرونه، د هیواد د عایداتی منابعو نه بی مسؤلیته ګټه پورته کونه، د طالبانو سره د امریکا د بی نتیجی خبرو او مذاکرو اوریدنه، د مؤقت حکومت

د جوړېدو ړونډوری او په لسګونو نورو پیښو ته چی سړی ګوری نو ویره پیداکیږی چی زمونږ هیواد هم د یوګو سلاویا د هیواد په سرنوشت اخته نشی. خدای ج دی نکړی.

د دی ستونزی د حل او د دی تشویش د له منځه وړلو د پاره به د هیواد د ټولنیزو علومو د پوهانو سره حتمی ډول ډول نظریات موجود وی چی زما په اند هر نظر د قدر وړ دی اوکه عملی شی دا ویره به له منځه یوسی. زه په دی باور یم چی د ملی ګټو د ساتنی او د خپل هیواد د ژغورنی د پاره ټول هغه مطرح سیاسی شخصیتونه، سیاسی ډلی،په اوس کی انتخاباتی ټیمونه، د طالبانو په ګډون وسله وال مخالفین او وطندوست آزاد ملی شخصیتونه او روشنفکران، د دولتی چارواکو سره د ملی تفاهم د را منځ ته کیدو د پاره په یو ټغر سره کښینی او د منلو افغانی کودونو او سیاسی پوهی او زیرکتیا له مخی خپل وطن و ژغوری. زما په اند یواځی همدا میتود کولی شی چی پری نږدی چی په افغانستان کی پراته افغان ورونه قومونه یو د بل د څنګ نه بیل او په ځانګړی توګه د نورو په کمین کی د ناستو همسایه هیوادونو خوراک شی او د لویو هیوادونو له ګټو نه دا عظیم تاریخی ملک قربان شی. بس همدومره.

پای

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

آیا افغانستان د یوګوسلاویا په لار روان نه دی؟
kliwal_s_aya_afgh_deyogoslavia_palar_rawan_dai.pdf